مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اجمل اتک یوسفزی
۲۰۲۳/۰۹/۱۲

# تصوف، د سپيڅلتيا او نفسي غوښتنو په هنداري کې




د تصوف او روحانيت اړونده موضوع څېړل او شاربل ډېر وخت او پوره علم غواړي؛ ځکه هغه زموږ د ټولنېزې تنستي او زموږ د عقيدې له مخې، نبغ په نېغه د مذهب سره ژورې اړيکې لري او د کلتور او ادب رېښې هم ورغځېدلي دي. له همدې امله ډېرې باريکۍ او کړليچونه لري او سپړنه يې د هر چا د وسعې کار نه دی. که څه هم صوفيان او روحانيون په هره ټولنه او هره مذهبي طبقه کې شته او په دې ډول يې د دعوت او بلنې رنګونه هم توپير کوي. خو يو رنګ يې چې تر ډېره جوت دی هغه که په وضعي مذاهبو لکه هندويزم، بوديزم، زردشتيزم او که اسلامي مذاهب دي په ټولو کې صوفيان خلک مينې، يووالي او ګډ ژوند ته رابولي او د تشدد او عداوت خلاف دي.
زموږ له نظره تصوف يا صوفيزم د څښتن تعالی سره د انسان مستقيمه رابطه او تړاو دی. د دنياوي غوښتنو او ماديزم سره د پرېکون او واټن يوه وسيله ګڼل کيږي او اکثره صوفيان په عامه اصطلاح فنا في الله ګڼل کيږي. په نړۍ کې او بيا په تېره په اسلامي ټولنو کې صوفيان او د تصوف خاوندان ډېر دي، دغه شخصيتونه کله د ادب له مخې او کله کله هم د روحانيت يعنې پيرۍ، مريدۍ او طريقت له مخې د ټولنو په وګړو کې نفوذ کوي او ورو ورو لارويان او پيروان پيدا کوي. خو مهمه او اړينه دا ده چې په دغو باريکيو کې سړی ځان ورک نه کړي او حقيقت ته د ورننږدې کېدو او ورستېدو پرځای ترې لرې او لار ورکی نه شي.
که د اسلامي هېوادونو ټولنې ستر ستر عارفان او صوفيان لري لکه : الحسن البصري، سفيان الثوري، ابراهيم بن ادهم، جنيد البغدادي، ابوالحسن الاشعري، ابونصر الفارابي، ابو منصور الحلاج، ابو القاسم القشيري، ابو حامد محمد الغزالي، فريد الدين عطار او شمس الدين تبريزي. نو موږ هم د دغو هېوادونو او ولسونو، نه بېرته پاتې نه يوو او د تصوف او عرفان په برخه کې لوې هستۍ لرو لکه: رحمان بابا، خوشال خان بابا، حمزه بابا، بايزيد روښان، مولانا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

جلال الدين بلخي، فخرالدين رازي، حکيم سنايي غزنوي، خواجه عبدالله انصاري، مولانا عطاءالله فيضاني، ميرزا عبدالقادر بېدل او ډېر شمېر نور صوفيان، عارفان او د پوهې خاوندان.
په دې کې شک نشته چې تصوف، عرفان او پوهه سړی رڼا ته رسوي خو له بده مرغه زموږ په وروسته پاتې ټولنو کې اکثره وخت ځينې ناپوهان او جعلکاران له دغه سپېڅلي ادرس نه هم ډېره بده ګټه اخلي او د رحمان بابا خبره؛ له دين نه يې دام جوړ کړی وي او په انحرافي بڼه [د کوډو، تعويذونو، فالونو، څښتونو، په غيبو پوهېدل، د پېريانو طابع کول..] ترې ناوړه کار اخلي او د کم علمه خلکو د عقيدو سره لوبې او دوکانداري کوي.
همدارنګه عرس، قوالي، سماع، خلوت، چلهه او رقص دا ټول د طريقت ځينې علماء د تصوف برخې ګڼي او خپل خپل دلايل ورته لري. په اردو او فارسي ژبو کې د تصوف او طريقت سرلارو ډېر کتابونه ليکلي دي خو په دې برخه کې زما د خپلو معلوماتو له مخې، په پښتو ژبه کې ډېر لږ او يا هم د ګوتو په شمېر کتابونه ليکل شوي او ژباړل شوي دي. په دغو اختلافي، پېچليو او باريکو مسائلو کې آن مذهبي مشرانو او پوهانو په يو او بل د ګمراهۍ او تکفير ټاپې او رسالې هم وهلې او ليکلې دي.
په پښتو ادب کې هم د تصوف څرګ د ځينو پوهانو په وينا د اوومې هجري پېړۍ په دويمه نيمايي کې د پښتو ادب د مشهور صوفي شاعر، شيخ متي له اشعارو راڅرګنديږي. سيد علي ترمذي (پير بابا)، د بايزيد روښان او آخوند درويزه خيرالبيان او نورو د وخت په ادبي او مذهبي پنځونو کې هم د تصوف رنګ رڼې ښکاري. په هر حال دغه په زړه پورې موضوع او د مذهبي جنجالونو او کړليچونو، نه ډکه لاره، ګرانه ده چې بې له پوهې او علمه ووهل شي. په دغه اړه قلم پورته کول او څه ليکل هم جامع پوهه غواړي او هم پوره زړه او ډېر جرئت؛ کوم چې د هر چا د وسعې کار نه دی.
ښاغلی ولي الله ملکزی صاحب چې په دغه برخه کې د پوره پوهې، صلاحيت او جرئت خاوند دی، همداسې هيله او طمع مو ترې کېده چې دغه کړلېچونه او اغزن مزلونه به زموږ د پوهونې په پار وهي او قرباني به ورکوي. " تصوف، روحانيت او کړلېچونه " يو غوره کتاب دی چې ښاغلي ملکزي پرې د خپل ژوند قيمتي ورځې، اونۍ او مياشتې لګولې دي. خواري يې پر ځای ده او نوموړی کتاب يو ارزښتمند علمي کتاب دی. ليکوال (ملکزي) د کتاب د شا پر پښتۍ زموږ د ټولو د زړونو يوه کره او پخه خبره، د يو ارمان او هيلې په بڼه ليکلې ده؛ که ومنل شي او موږ يې عملي کړو باور لرم چې ټول ټولنيز ټپونه به مو ورغيږي. ملکزی داسې ليکي: ( زه په دې باور يم؛ د دې ستر امت ژور ټپونه هلته رغېدلای شي، کله چې د قلم، اعتدال او پخلاينې نسخه وازمايل شي. تصوف د روحي ډاډ د ترلاسه کولو او د انساني سلوک د مهارولو درمل دی، خو په دې شرط چې د الله دنده، پير او مرشد ته ونه سپارل شي او بنده، د بنده ګۍ په دائره کې بند پاتې شي).
ښاغلي ملکزي تر دې دمخه يو بل نوښت هم کړی او د اسلامي امت د وېښولو او يووالي په پار يې يو بل ګټور کتاب هم د وخت د غوښتنو سره سم د " دين او جګړه " تر سرليک لاندې راټول، ترتيب او تأليف کړی وو چې د مينه والو له خوا وستايل شو. د هغه کتاب د شا پر پښتۍ/ وقايې يې خپل دريځ د کتاب متن څخه را اخيستې او نچوړ يې يو ځانګړی پيغام له ځان سره لري. ملکزی ليکي: (د نړۍ زياتره جنګونه اقتصادي، سياسي او سليقوي دي؛ خو د خلکو سترګو ته د دين خاورې شيندل کيږي، ځکه هغه سپېڅلتيا لري او بازار يې تود دی. په خپل ذات کې هيڅ جنګ سپېڅلی نه دی، مذهبي ناره د ذهن د حجرو پر ځای؛ سيده د زړه تاخچو ته کوزيږي او عاطفه په سوچ باندې غلبه مومي. هره جګړه غالب او مغلوب لري، خو د مذهبي جنګونو ټول اړخونه په ماتې محکوم دي. ښه جګړه مار ډېر کله بريالی سياستوال نه وي؛ وجه يې دا ده چې جنګ د باروتو لوبه ده او سياست د مصلحتونو سيالي. ټول اسماني اديان، تلمود، ويدا او بودا هم خپلو پيروانو ته د يوه بېګناه انسان د مرۍ د خپه کولو اجازه نه ورکوي. نو څومره به ښه وي که د افراط او تفريط په ځای اعتدال، د جګړې په ځای سولې او د ټوپک په ځای د قلم نسخه وازمايل شي).
اوس نو تاسو درانه لوستونکي د دغو کرښو تر لوستلو وروسته، د ښاغلي ملکزي په اړه ښه قضاوت کولای شئ چې د روحاني سپېڅلتيا او نفسي غوښتنو په هنداره کې د هغه دريځ او هڅه وڅارۍ. په عمر، پوهې او قلم يې لا برکتونه شه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ